سلطان جان کلیوال ۲۰۱۹/۰۵/۰۹

# پـــــام !

مه ولي غوټې په کاڼو پرېږدی چې ګلونه شي
ځانـګې د ګلانـو لکه زلـفې شـی تالـونه شـي
غواړم چې په خلاصو سترګو سيل د ښکلا وکړمه
مه مي ترۍ سترګې چې پوره مي ارمانونه شی
پاڼــې د کتـــاب لکه د ونــو پاڼــې مه سـيزئ
پريدئ چې دا پـاڼـې شـي را ټـولې کتابونه شی
لارې بندې نکړئ زړونه يو بل ته اړتيالرى
مينه به غالبه شی نژدی که سره زړونه شي
پورته به شاهين ځنګه د لوړو څوکو سرته شي
مات که يی د ظلم په ګزار بانـدی وزرونه شي
څوک چی د مور سترګو کی د مينې څپې نه وينی
څنګه به ځرکند ورته د ميندو فـريادونه شي ؟؟
پام چی کليواله دلته هرڅپک کی ژوند پروت دی
نه چی د چا ژوند کی ستا په لاس جوړ کړاوونه شي.

ايجکس ـ تورنتو ـ کاناډا - ۲۰۱۹/۰۵/۸

يادونه:

که چيری ګران لوستونکی و غواړی چې د دی شاعر او ليکوال نوری ليکنې او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چې، پر انځور باندی د «کليک» په اجرا کولو سره د ليکونکی مقالی او مطالب د «آرشيف» فهرست ته، لار بنودنه تر لاسه کړی!

پـــــام
kliwal_s_ paaaaaaaam.pdf